# نوردکوم ځای څخه مرسته غوښتلای شی؟

داغوس په ښارکی په لاندنیوکتابتونوکی:

- کتابتون کی Gellerup
- کتابتون کی Hasle
- مرکزی کتابتون
- کتابتون کی Risskov
- کتابتون کی Tranbjerg
- کتابتون کی Skødstrup
- کتابتون کی Viby

دانترنیټ له لیاری مسقیمه مرسته:
Online-lektiehjælp
www.lektier-Online

ځینی دکورونواتحادیی هم دکورنی کارمرسته کوی. دخپل کورونوپه اتحادیی کی په دی اړوندپوښتنه وکړه.

ډیری ښوونځی، SFO اوکلوپونه هم دکورنی کارمرسته کوی. ددی په اړوندخپل دماشوم په ښوونځی کی پوښتنه وکړه.

تاسوکولای شی چی ویډیووینی:
ډنمارکی ښوونځی ته ښه راغلاست په لاندی پته یی ووینی:
www.uvm.dk/velkommen

په ګډه مرسته VIAUniversity College کتابتون، اغوس کمون او Viby دامواددکورنی کاردبودجی څخه برابرشوی دی اوهم دکتابتونواداری، میډیااوداغوس کمون مالی مرسته کړی ده: دانتیګریشن دابتکارله سرچینی څخه

Pashto oversættelse af pjecen:
*Sådan kan du hjælpe dit barn med lektierne*






The Basketball Game

## ته کولای شي چي مختلف کتابونه په کتابتون کی قرض کړی، چي وروسته

- کولای شی هغه دخپل ماشوم سره په ګډه ګټه ورڅخه واخلی
- په مورنی ژبه کتابونه
- هغه کتابونه چي ومورنی ژبی ته ژباړل شوی دی
- دعکسونوکتابونه.

په ځینوکتابتونوکی دکورنی کارکافی(ځای) شتون لری.

ځیړنی وایی:


**« کله چي ماشوم داوه کلنی په عمرکی وی والیدین یی په زده کړوکی شپږبرابره دښوونځی په پرتله په لوړه پیمانه ا غیزه ورباندی لری**

Professor Charles Deforges,
Exter University, 2009

## که ماشومان دښوونځی څخه کتابونه دځانه سره ولری، چي بایدویی لولی ، تاسوکولای شي:

- ماشوم ته وخت ورکړی چي تاسوته کتاب ولولی.
- ته پوښتنه وکړه چي ماشوم په هغه څه چي لولی، پوهیږی اودڅه په هکله دی؟
- ته کولای شی دعکسونوپه اړوندیی په مورنی اویادډنمارکی ژبه ورسره وږغیږی.
څه شی تاسوپه عکسونوکی وینی؟





**که زه دخپل ماشوم سره دکورنی کارمرسته ونه کړم نوزماماشوم به ددی کارلپاره یوازی پاته وی**


والیدین

# مورنی ژبه دیوی مرستی په توګه دډنمارکی ژبی دزده کړی لپاره

مورنی ژبه یوه مهمه ذخیره ده. هرڅومره چی ستاسوماشوم په مورنی ژبه ښی خبری وکړای شی، په همهغه اندازه به په ډنمارکی ژبه درستی خبری وکړی اوهم به ښه کتاب ولوستلای شی. په دی خاطر دایوه ښه مفکوره ده چی:

- دخپل ماشوم سره دهرهغه څه په اړوندچی تاسویی په ګډه وینی اوتجربه کوی، ډیری خبری وکړه. اوبهرورسره ولاړشه چی زیات شیان په ګډه ووینی اوتجربه یی کړی.
- خپل ماشوم ته کیسی وکړی. هغه ماشوم چی ډیری کیسی واوری، نوخپله هم ددی ښه استعدادپیداکوی چی نوروته اوحتی په نورو ژبو کیسی بیان کړی.
- خپل ماشوم ته په مورنی ژبه کیسی ولوله. ولی دلوستلوډیرشکلونه شته دی:
  - ته کولای شی چی وپوښتی چی ماشوم په کیسه وپوهیدی.
  - ته کولای شی چی دماشوم پوښتنی ته جواب ورکړی.
  - تاسی کولای شی چی دهغه څه په هکله وږغیږی کوم چی په عکسونوکی ګوری.
  - اوتاسی ممکن په دی اړوندهم خبری وکړی چی مختلف لغاتونه په ډنمارکی ژبه څه نومیږی.

په کورنیوکی چی دکتابونوپه اړوندخبری کیږی، دماشومانوژبه ښه کیږی اوپه اسانی سره زده کړه اودکتاب لوستل کولای شی.



کورنی کارکول مهم دی، ځکه
سړی لایق کیدلای شی.
نوکله چی سړی لوی شی،
نوسړی لایق وی. زه غواړم
پیلوټ شم.

ددوم ټولګی زده کوونکی


**ستاسوماشوم کیدای شی چی
مختلف کورنی کارونه ولری.
په معمولی ډول ښوونکی هغه
وخت کورنی کاروركوی چی:**

- ماشوم بایدهغه څه چی ښوونکی په ښوونځی کی درس ورکړی دی، باید تکراراوتمرین یی کړی.
- ماشوم بایدنوی شیانوته ځان تیارکړی، دبیلګی په توګه چی یوکیسه ولولی چی په ورروسته کی په ښوونځی کی کاروربانده کیږی.
- ماشوم بایدیوه مستقله وظیفه ولری، دبیلګی په توګه یوه کیسه ولیکی او یاپه ټولګی کی دیوی موضوع په اړوندوړغیږی، کوم چی ماشوم خپله انتخاب کړی ده.

«زمادنده ده چې ماشوم تمرکزاوارامش لاسته راوړي»
والیدین

## ماشومان دماشومانوسره مرسته کوي

لږڅه لوی ماشومان کولای شي ډېرخوندواخلي چې یودبل سره مرسته وکړي. ته دوی ته وړاندیزوکړه چې دخپل کورني کارلپاره یومرستندوی پیداکړي، چې دبیلګې په توګه دغه ممکن ورته ډېره ستونزمن وي. دامرستندوی کیدای شي همصنفي، خورياوروروي.



## ښه مشوري کله چې تاسودخپل ماشوم سره دکورني کارمرسته کوي

دکورني کارپه اړونديوورځني پروګرام چې عادت شي، جوړکړه: داکيدلای شي چې دورځې په جريان کې يوټاکلی وخت وي، چې تاسوديوه ياڅوماشومانوسره کښيني اودبيلګې په توګه پوښتنه وکړي:

- کولای شي چې ماته وښيي چې نن تاسوپه ښوونځي څه کړي دي؟
- داسي څه لري چې دسبالپاره يي وکړي؟ کولای شوچې ستادښوونځي مهال ويش اوياداوني پروګرام وګورو؟
- دلسوڅخه ترپنځلسو دقيقو وخت ديوه ماشوم سره مصرف کړي.


په دی ډول دخپل
ماشوم سره دکورنی
درس مرسته وکړه!
KULTUR OG
BORGERSERVICE
Aarhus Kommune